بسم الله الرحمن الرحیم

## بشریت نور د کپیټلېزم دا درووند بار پر اوږو نه شي وړی،

## د بشریت د ژغورنې لپاره اسلام حاکم کړئ

په پاکستان کې په سیمه ییزه او نړیواله کچه دا روښانه شوې چې کپیټلېزم په سخت کړکیچ کې دی. ان د کرونا ویروس له خپرېدو مخکې د نړیوال اقتصاد د ټیټېدو شواهد وو. په نړیواله کچه عامه بېړنۍ روغتیا وضعیت نور هم خراب کړ.

د ځو غربي کپیټلېسټانو په لاس کې د ټولې شتمنۍ راټولېدل اوس نه د غرب خلکو ته د زغم وړ دي او نه نورې نړۍ ته. ان په دغه ناوړه حالت کې هم د په امریکا کې د میلیاردرانو شتمني سلګونو میلیاردو ډالرو ته ورسېده. د ځو ځانګړو کپیټلېسټانو شتمني تر ټریلیونونو رسېږي او نوره نړۍ بیا د مالیې له لوړېدو، د پورونو له ډېرېدو، د سوداګریو له نړېدو، د بېکارۍ له اوج ته رسېدو او بېوزلۍ له زیاتېدو سخت په ستونزو کې دي. پاکستان د نړیوال اقتصاد له ټیټېدو سره له ډېرو ستونزو سره مخ دی، اقتصاد یې پر صادراتو، د پیسو په لېږد او با ارزښته شیانو په واردولو پورې

ترلی. د کوویډ-۱۹ پر مهال قرنطین یې اقتصاد نور هم کمزوری کړ، سوداګرۍ ودرېدې، عایدات نه وو او د بېکارۍ کچه لوړه شوه.

څو غربي کپیټلېسټان او سیمه‌ییز همکاران یې په خپل حال دي، بلکې لا چاغېږي. یوه اصلي وسیله یې پر پاکستان باندې سودي پورونه دي. اوسمهال یې له اووه ټریلیونو روپیو نه درې ټرېلیونه سود دی. د تېر کال سود یې په نړۍ کې بې سارې و. روان کال هم همداسې درواخلئ، د دغه سود د ورکړې لپاره یې سږ کال د مالیې ټارګېټ پنځه ټریلیونه روپۍ دی، له تېر کال څخه یو ټریلیون زیات، د پیسو نړېوال صندوق یا آی اېم اېف ترې غوښتي چې تر ۲۰۲۵/۲۰۲۴ م کلونو پورې هر کال مالیه تر لسو ټریلیونو روپیو زیاته کړي.

د نړۍ او سیمې په کچه نور د کپیټلېزم دوام د منلو نه دی. کوم څه چې یو وخت خلکو ته د بهترین اقتصادي ماډل په توګه وړاندې شوی و، اوس د خلکو په وحشتناک خوب بدل شوی. اوس تر بل هر وخت ډېر د اسلام حاکمیت او د اسلام بې نظیره اقتصادي نظام ته اړتیا ده چې شتمني ځانګړو کسانو ته نه ور ټولوي، بلکې وېشي یې. له څو ځانګړو کسانو سره د پیسو راټولول؛ لکه د سود پر اساس مالیه، د معدنونو او انرژۍ

خصوصي ملکيت کول او د سهامو د شرکت جوړښت له منځه وړل به دغه نړۍ اسوده کړي چې اوس يې په اوږو د کپيټالېزم درونډ بار دی.

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## مسباح عمير-پاکستان